د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 413**

(07 زمری – 13 زمری 1402 هـ ش)

# په شانګهای همکارۍ سازمان کې د ایران دایمي غړیتوب: پر سیمه او افغانستان يې اغېزې



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

### په دې ګڼه کې لولئ:


- په شانګهای همکارۍ سازمان کې د ایران دایمي غړیتوب: پر سیمه او افغانستان یې اغېزې ..........3
- سریزه..........3
- د شانګهای همکارۍ سازمان لاسته راوړنې ..........4
- په شانګهای همکارۍ سازمان کې د ایران دایمي غړیتوب او پر سیمه یې اغېزې..........5
- په شانګهای همکارۍ سازمان کې د ایران دایمي غړیتوب او پر افغانستان یې اغېزې..........6
- د شانګهای همکارۍ سازمان پر وړاندې پرتې ننګونې..........7
- پایله ..........8
- یادښتونه او سرچینې ..........9


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**په شانګهای همکارۍ سازمان کې د ایران دایمي غړیتوب: پر سیمه او افغانستان یې اغېزې**

**سریزه**

شانګهای همکارۍ سازمان یو بین الحکومتي سیاسي، اقتصادي او امنیتي نړیوال سازمان دی چې د ۲۰۰۱ ز.کال د جون پر ۱۵مه نېټه یې د چین، روسیې، قزاقستان، قرغېزستان، تاجکستان او ازبکستان له لوري د چین په شانګهای ښار کې د موجودیت اعلان وشو. تر دې مخکې له ازبکستان څخه پرته ټولو هېوادونو د شانګهای پنځه غړیتوب درلود، چې په ۱۹۹٦ ز.کال کې د لومړي ځل لپاره رامنځته شو. په ۲۰۰۱ ز.کال کې د ازبکستان له غړیتوب سره سم د شانګهای پنځه نوم د شانګهای همکارۍ سازمان ته واوښت. د شانګهای پنځه د بنسټ اېښودلو یو ستر دلیل د سیمه ییز ثبات په موخه د ترهګرۍ، بېلتونپالنې او بنسټپالنې پر وړاندې مبارزه وه. د وخت په تېرېدو سره سازمان په خپل چوکاټ کې سیاسي، اقتصادي او کلتوري مسایل هم راونغاړل، خو بیا هم دفاعي او امنیتي همکارۍ د سازمان لومړیتوب جوړوي.

د شانګهای همکارۍ سازمان اصلي موخې د غړو هېوادونو ترمنځ د باور پیاوړتیا او د ګاونډیو ترمنځ ښې اړیکې؛ په سیاست، سوداګرۍ، اقتصاد، ساینس او ټېکنالوجۍ، کلتور او همدارنګه تعلیم، انرژۍ، ټرانسپورټ، سیاحت، چاپېریال ساتنې او نورو برخو کې د اغېزمنو همکاریو هڅول؛ په سیمه کې د سولې، امنیت او ثبات ساتلو لپاره ګډې هڅې او د یوه نوي، ډېموکراټیک، عادلانه او منطقي سیاسي او اقتصادي نړیوال نظم رامنځته کول دي.

د شانګهای همکارۍ سازمان د پرېکړې نیولو لپاره تر ټولو لوړ ارګان د دولتي مشرانو شورا ده، چې د سازمان فعالیتونو او نورو مهمو مسایلو په اړه په کال کې یو ځل غونډه کوي. د حکومتي مشرانو شورا، د څو اړخیزو همکاریو او لومړیتوبونو په موخه په کال کې یو ځل غونډه کوي او د سازمان کلنۍ بودیجه تصویبوي. د دولتي او حکومتي مشرانو پر غونډو سربېره، د سازمان په کچه د پارلماني رییسانو، امنیت شورا سکرترانو، بهرنیو چارو وزیرانو، دفاع وزیرانو، د بېړنیو مرستو، اقتصاد، ټرانسپورټ، کلتور، تعلیم او روغتیا پاملرنې د رییسانو په کچه د غونډو لپاره میکانیزمونه شته. دغه سازمان دوه دایمي ارګانونه لري: د چین په پلازمېنه بېجېنګ کې سکرتریت او د ازبکستان په پلازمېنه تاشکند کې د ترهګرۍ ضد سیمه ییز جوړښت دی. د شانګهای همکارۍ سازمان جنرال سکرتر او د ترهګرۍ ضد سیمه ییز جوړښت اجرایوي کمېټې مشر، د دولتي مشرانو شورا له لوري د درېیو کلونو لپاره ټاکل کېږي. د یادونې وړ ده چې په دې وروستیو کې ایران د شانګهای همکارۍ سازمان دایمي غړیتوب ترلاسه کړ، دا چې سازمان کومې لاسته راوړنې لري؛ په سازمان کې د ایران دایمي غړیتوب خپله د ایران، سیمې او افغانستان لپاره څه پایلې لري او په ټوله کې د سازمان فعالیتونو پر وړاندې کومې ننګونې پرتې دي، تر څېړنې لاندې نیسو.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

### د شانګهای همکارۍ سازمان لاسته راوړنې

د شانګهای همکارۍ سازمان په اړه د نړۍ پوهان بېلابېل نظرونه لري. ځینې پوهان پر دې باور دي چې دغه سازمان کنفرانس ته ورته دی، یوازې کلنۍ غونډې جوړوي او ټاکل شوی هدف نه شي تعقیبولای. ځینې نور بیا پر دې باور دي چې د سازمان غړي هېوادونه بېلابېل سیاسي نظامونه، اقتصادي سیستمونه، مذهب او کلتورونه لري، له همدې امله پرېکړې یې اغېزمنې نه دي، ځکه همدغه توپیرونه د بېلابېلو مسایلو په اړه د سازمان د واحدې اجماع مخه نیسي. د یادونې وړ ده چې ډېر شمېر لوېدیځوال شانګهای همکارۍ سازمان ته د ناټو ضد سازمان په سترګه ګوري.

د شانګهای همکارۍ سازمان ډېر ملاتړي پر دې باور دي چې دا یو نوی راټوکېدلی او د عمر له اړخه ځوان سازمان دی، طبیعي ده چې په لومړي سر کې به ستونزې وي، خو د وخت په تېرېدو سره به سازمان وکولای شي د پام وړ لاسته راوړنې ولري. د تاریخ په اوږدو کې دا لومړنی سازمان دی په داسې یوه جغرافیه کې رامنځته شوی چې غړي یې د سیاسي، اقتصادي، امنیتي او کلتوري توپیرونو ترڅنګ د پولو پر سر اختلافونه هم لري، چې کولای شي د سازمان په کچه همغږي اغېزمنه کړي.

شانګهای همکارۍ سازمان یو څو اړخیز جوړښت دی چې درې ډوله همکارۍ لري. (الف) په سیاست او امنیت، (ب) سوداګرۍ او اقتصادي فعالیتونو او (ج) د فرهنګونو په پراختیا او بشري اړیکو کې همکارۍ شاملېږي. د سازمان مشرتابه هڅه کوي په سیمه کې د ګډو د مخنیوي لپاره اقتصادي نوښتونه رامنځته کړي، چې کولای شي د پوځي لګښتونو په راکمولو کې مرسته وکړي. که څه هم د سازمان غړو هېوادونو په بېلابېلو برخو لکه بانکوالۍ، پانګونو، تولید، کرنې، ټرانسپورټ، ګمرکونو او سیاحت کې تر سلو ډېر حقوقي سندونه لاسلیک کړي، خو اغېزمنتیا یې ډېره څرګنده نه ده.

لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه، د امنیت خوندیتوب د شانګهای همکارۍ سازمان لپاره لومړیتوب دی، غړو هېوادونو د ترهګریزو کړنو او بېلتونپالو ډلو د مخنیوي په موخه همغږۍ او همکارۍ زیاتې کړې دي او یو له بل سره استخباراتي معلومات شریکوي او کله نا کله ګډ پوځي تمرینونه هم ترسره کوي. د یادونې وړ ده چې شانګهای پنځه په لومړي سر کې په سیمه کې د امنیت د ټینګښت په موخه رامنځته شو، خو د سیمې په سیاسي او اقتصادي وضعیت کې د بدلون په رامنځته کېدو سره په دغه مفهوم کې هم بدلون راغی او نن په دغه سازمان کې تر ډېره د امنیتي همکاریو ځای اقتصادي همکاریو نیولی دی. خو باید زیاته شي چې که نن د سازمان غړي هېوادونه امنیت او اقتصادي پرمختګ تجربه کوي، دا د سازمان له چوکاټ څخه بهر خپله د هېوادونو نوښت دی او تر ډېره په سازمان پورې اړه نه لري.

د شانګهای همکارۍ سازمان ستره لاسته راوړنه په غړو هېوادونو کې د ګډې همکارۍ مفهوم خپرول دي چې دغه همکارۍ سیاسي، اقتصادي، امنیتي او فرهنګي اړخونه لري. اقتصادي همکارۍ د شانګهای همکارۍ

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

سازمان بله مهمه برخه جوړوي. په دې وروستيو کې د سازمان اقتصادي پوټنشيل لوړ شوی، دا له دې امله نه چې په سازمان کې اقتصادي تعامل لوړی شوی، بلکې د سازمان له چوکاټ څخه بهر د هر غړي هېواد په ځانګړې ډول د چين اقتصادي ځواک لوړ شوی دی. سربېره پر دې، د شانګهای همکارۍ سازمان په سيمه ييزه جغرافيه کې د اقتصادي همکاريو د پرمختګ ترڅنګ ټيکنالوجي هم د پام وړ پرمختګ کړی دی. په ټوله کې د شانګهای همکارۍ سازمان غړو ترمنځ دوه اړخيزه سوداګري پراخه شوې او همدارنګه د سازمان تر پوښښ لاندې په غړو هېوادونو کې ځينې پوهنتونونه د شانګهای همکارۍ سازمان غړو هېوادونو وګړو ته د لوړو زده کړو لپاره ځانګړي شوي دي.

## په شانګهای همکارۍ سازمان کې د ايران دايمي غړيتوب او پرسيمه يې اغېزې

د ۲۰۱۷ ز.کال د جون پر ۹ مه هند او پاکستان د قزاقستان په پلازمېنه استانه کې د شانګهای همکارۍ سازمان دايمي غړيتوب ترلاسه کړ، دا لومړی ځل و چې له ۲۰۰۱ ز.کال وروسته سازمان نور هم پراخ شو. همدارنګه په ۲۰۲۱ ز.کال کې په شانګهای همکارۍ سازمان کې د دايمي غړيتوب لپاره د ايران غوښتنليک ومنل شو، چې له ۱۸ کلن مزل وروسته په هند کې د پرليکه غونډې له لارې د ۲۰۲۳ ز.کال د جولای پر ۴ مه ايران د دغه سازمان دايمي غړيتوب ترلاسه کړ.

ايران په منځني ختيځ کې يو له پياوړو هېوادونو څخه دی چې لوېديځ ضد دريځ لري او هڅه کوي د سيمې بېلابېلو سازمانونو کې د غړيتوب له لارې خپل دريځ پياوړی او سيمه ييزې اړيکې پراخې کړي. ايران په داسې حال کې د سازمان دايمي غړيتوب ترلاسه کوي چې غواړي له چين او روسيې سره خپلې اړيکې لاپسې پراخې او ټينګې کړي، ترڅو له اقتصادي اړخه تر يوه بريده د متحده ايالاتو او اروپا بنديزونه مات کړي. د ځينو ايراني رسنيو په حواله، په ۲۰۲۲ ز.کال کې د ايران او سازمان غړو هېوادونو ترمنځ سوداګري څه کم ۳۹ ملیارده ډالرو ته رسېده، چې يوازې څه باندې ۱۹ ملیارده ډالره يادو هېوادونو ته د ايران صادرات شوي وو. د سازمان غړيتوب به له مرکزي اسيا سره د ايران سوداګري نوره هم پراخه کړي او کېدای شي د ګمرکي تعرفو په برخه کې اسانتياوې راولي.

په شانګهای همکارۍ سازمان کې د ايران دايمي غړيتوب د ختيځ پر لور ګام دی. کله چې د ولسمشر احمدي نژاد د حاکميت پر مهال له نړيوالې ټولنې سره د ايران اړيکې خرابې شوې، نو ايران په خپل بهرني سياست کې د ختيځ پر لور حرکت ته لومړيتوب ورکړ. ورته مهال، د ايراني ولسمشر ابراهيم رييسي د بهرني سياست يو له مهمو هڅو ختيځ لور ته د ايران حرکت دی او همدارنګه څو اړخيزتوب ته هم اهميت ورکوي، چې په سازمان کې د ايران دايمي غړيتوب به د ايران د څو اړخيزتوب پاليسي لاپسې پياوړې کړي.

ايران به په پوځي برخه کې د چين د ټېکنالوجۍ غوښتنه وکړي، خو چين شوني ده د هغو هېوادونو حساسيتونه هم په پام کې ونيسي چې له ايران سره ښې اړيکې نه لري. ورته مهال، چين هم کېدای شي په


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

سازمان کې د ایران غړیتوب په خپله ګټه وکاروي، داسې چې متحده ایالاتو ته فشار ورکړي ترڅو تایوان د چین په ضد ونه کاروي. همدارنګه په سازمان کې د ایران غړیتوب د سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو د دایمي غړیتوب چانسونه هم ډېروي، ترڅو اړیکې عادي او سیمه ییزې سیالۍ راکمې شي، ځکه په دې وروستیو کې د چین په منځګړتوب د ایران او سعودي عربستان اړیکې بېرته رغول شوې دي.

په شانګهای همکارۍ سازمان کې د ایران دایمي غړیتوب د سازمان لپاره لاسته راوړنه هم ده، ځکه شونې ده د سازمان اړیکې له اسلامي هېوادونو سره لاپسې پراخې شي. سربېره پر دې، په سازمان کې د ایران دایمي غړیتوب په منځنۍ ختیځ کې د سازمان نفوذ هم زیاتوي ترڅو منځنۍ ختیځ کې امنیتي اندېښنې په نښه کړي. په سازمان کې د ایران غړیتوب په لوېدیځه اسیا کې د چین له ښکېلتیا سرچینه اخلي، په ۲۰۲۱ ز.کال کې د ایران او چین ترمنځ ۲۵ کلن تړون د دواړو هېوادونو نږدې اړیکې په ډاګه کوي، ورته مهال دغه سازمان د ایران اقتصادي پرمختګ لپاره هم یو مهم عامل دی.

ایران د تېلو او ګازو پراخې زېرمې لري چې کولای شي د سازمان له غړو هېوادونو سره د انرژۍ په برخه کې همکاري وکړي. ګومان کېږي چې په سازمان کې د ایران غړیتوب د دوه اړخیزې اړتیا له مخې ترسره شوی دی. په دې معنی چې له یوه اړخه د سیمې هېوادونه د ایران انرژۍ ته اړتیا لري او له بله اړخه ایران د سازمان له سیمه ییز نفوذ هم ګټه پورته کوي ترڅو د سازمان په چوکاټ کې خپلې غوښتنې نړیوالو ته وړاندې کړي. همدارنګه په سازمان کې د ایران دایمي غړیتوب کولای شي د سازمان غړو هېوادونو ته د سیمه ییز ټرانزیت اسانتیاوې هم برابرې کړي.

### په شانګهای همکارۍ سازمان کې د ایران دایمي غړیتوب او پر افغانستان یې اغېزې

ایران او افغانستان دوه ګاونډي هېوادونه دي چې هره پېښه مستقیم او غیر مستقیم پر دواړو هېوادونو اغېزې لري. په شانګهای همکارۍ سازمان کې د ایران دایمي غړیتوب بې اغېزې نه دی، کولای شي افغانستان سره د اړیکو په پراختیا او اقتصادي پرمختګ کې همکاري وکړي.

که څه هم له تېرو څه باندې څلورو لسیزو را په دېخوا، ګاونډیو د افغانستان پر وړاندې د ښه ګاونډیتوب د اصولو خلاف د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنې کړې، نو په شانګهای همکارۍ سازمان کې د هغوی غړیتوب به د افغانستان پر وړاندې د هغوی پر دریځ کومه ځانګړې اغېزه ونه کړي، ترڅو د افغانستان په اړه د هغوی په پالیسیو کې مثبت بدلون راولي، خو بیا هم هیلې شته چې په سازمان کې د ایران دایمي غړیتوب به د ایران – افغانستان دوه اړخیزې اړیکې او د سازمان په چوکاټ کې څو اړخیزې اړیکې مثبت لوري ته یوسي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د متحده ایالاتو له وتلو وروسته د شانګهای همکارۍ سازمان غړي هېوادونه له اسلامي امارت سره دوه اړخیزې سیاسي او اقتصادي اړیکې لري، خو افغانستان اوس هم په سیاسي انزوا کې دی او سازمان نه شي کولای د خپلواکې پرېکړې په ترڅ کې افغانستان له سیاسي انزوا څخه وباسي، چې ښکاره د سازمان کمزوری دریځ په ډاګه کوي. که سازمان غواړي د افغانستان په اړه ښه نظر څرګند کړي، د ایران په ګډون د غړو هېوادونو په ملاتړ دې په افغانستان کې د سیمه ییزو پروژو له تطبیق سره مرسته وکړي، ترڅو سیمه ییز اتصال رامنځته او له سیالیو لاس واخلي.

افغانستان له ۲۰۱۲ ز.کال راهیسې د شانګهای همکارۍ سازمان څارونکی غړی دی، دا چې د سازمان مشرتابه تر دې دمه کومه سیمه ییزه پروژه په افغانستان کې نه ده تطبیق کړې او همدارنګه د چین په مشرۍ د یوه کمربند یوې لارې نوښت هېڅ اقتصادي دهلېز هم مستقیم له افغانستان څخه نه تېرېږي، نو اړتیا ده چې افغانستان ته په شانګهای همکارۍ سازمان کې دایمي غړیتوب ورکړل شي، ترڅو د افغانستان له ستراتیژیک موقعیت څخه ګټه واخیستل شي او د سازمان په مرسته یو لړ سیمه ییزې پروژې په افغانستان کې عملي شي.

د افغانستان اسلامي امارت بې طرفه او پر اقتصاد ولاړ بهرنی سیاست لري او د ګاونډیو په ګډون له ټولو هېوادونو سره د ښو اړیکو غوښتونکی دی. دا چې ایران له اسلامي امارت سره نږدې اړیکې لري، کولای شي د سازمان په چوکاټ کې د افغانستان په اړه سیمه ییزه اجماع رامنځته کړي، ترڅو د سیمې هېوادونه له سیمه ییزو سیالیو لاس واخلي او افغانستان اقتصادي پرمختګ تجربه کړي.

### د شانګهای همکارۍ سازمان پروراندې پرتې ننګونې

د شانګهای همکارۍ سازمان جغرافیه د تاریخ په اوږدو کې د سیمه ییزو سیالیو ښکار شوې ده. په سیمه کې متحده ایالات، چین، روسیه او هند ستر قدرتونه دي چې یو له بل سره سیالي لري. متحده ایالات په مرکزي اسیا کې له چین او روسیې سره او په پاسفیک سیمه کې له چین سره سیالي لري؛ همدارنګه چین او پاکستان له هند سره سیالي لري چې سیمه ییزې امنیتي ننګونې دېروي، د سازمان فعالیتونه تر اغېزې لاندې راولي او د سیمه ییز اقتصادي پرمختګ مخه نیسي.

سازمان په خپل جوړښت کې ستر اقتصادي قدرتونه او همدارنګه کمزوري هېوادونه هم لري، چې د سازمان د ګټو په پرتله خپلو ستراتیژیکو هدفونو ته لومړیتوب ورکوي، له همدې امله د سازمان د جوړېدو هدف تر سیورې لاندې راولي. په سازمان کې د واحدې ټولنې فکر په یوه کمزوري حالت کې دی، که په سیمه کې کومه امنیتي ستونزه پېښېږي، غړي هېوادونه نه شي کولای د سازمان د ګټو د خوندیتوب په صورت کې بېړنی ځواب ووایي، ښه بېلګه یې افغانستان دی چې د سیاسي انزوا د پای ته رسېدو او اقتصادي پرمختګ لپاره دغه سازمان کوم ځانګړی پروګرام نه لري.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په امنیتي سکټور کې، د شانګهای همکارۍ سازمان امنیتي پېښو ته په ځواب ویلو کې تر دې دمه مهم رول نه دی لوبولی، ځکه غړي هېوادونه هر یو له روان وضعیت څخه د ځان لپاره جلا تعریف لري او هڅه کوي په خپله ګټه یې وڅرخوي، ان تر دې چې ځینې د بل دوست خپل دوښمن او د بل دوښمن خپل دوست ګڼي؛ په دغسې حالت کې د ګډو ګټو رامنځته کول ستونزمن دي، چې د سازمان هدف تر پوښتنې لاندې راولي.

د شانګهای همکارۍ سازمان اغېزمنتیا یوازې په دې که نه ده چې د نړۍ ستره جغرافیه په ځان کې رانغاړي، ډېر نفوس لري او لوړ کلنی ناخالص تولید لري. په سازمان کې ځینې هېوادونه شته چې کمزوري سیاسي نظامونه او مخ پر ځوړ اقتصاد لري، کله چې یاد هېوادونه نشي کولای خپل ملي اقتصاد ورغوي او له سیاسي کړکېچ څخه ووځي، نو سازمان ته به یې څه ګټه ورسېږي.

**پایله**

په شانګهای همکارۍ سازمان کې د ایران دایمي غړیتوب کولای شي د ایران او سازمان غړو هېوادونو ترمنځ دوه اړخیزې او څو اړخیزې اړیکې پراخې کړي او همدارنګه شونې ده چې د سیمې په کچه اقتصادي تعامل لوړ او تر یوه بریده ایران د لوېدیځ له سیاسي او اقتصادي بندیزونو وژغوري، خو اندېښنې هم شته چې د سازمان غړو هېوادونو ترمنځ بېلابېل اختلافونه به د سازمان اغېزمنتیا او فعالیتونه کمزوري کړي.

په تېرو شلو کلونو کې د شانګهای همکارۍ سازمان په چوکاټ کې د سیمه ییزو همکاریو مفهوم ښه وده کړې او د همکارۍ ساحې هم پراخې شوې دي، خو د شانګهای همکارۍ سازمان د تاسیس له نېټې څخه تر دې دمه د افغانستان په تړاو پرته له دې چې اندېښنې په ډاګه کړي، نور اغېزمن نه دی ثابت شوی او همدارنګه د افغانستان په اړه د سیمه ییزې اجماع په رامنځته کولو کې هم پاتې راغلی دی. له یوه اړخه، دا چې په سازمان کې د ګټو واحد تعریف نشته او همغږي هم په ټیټه کچه کې ده او له بله اړخه د تاریخ په اوږدو کې سیمه ییز سازمانونه د افغانستان لپاره ډېر اغېزمن نه دي ثابت شوي، نو د اسلامي امارت لپاره اړینه ده چې په سازمان کې د غړیتوب لپاره د هڅو ترڅنګ د دغه سازمان له غړو هېوادونو سره مستقیمې دوه اړخیزې اړیکې ټینګې او پراخې کړي، ترڅو له یادو هېوادونو سره د ګډو ګټو د رامنځته کولو میکانیزمونه رامنځته شي.

تر هغې چې د سازمان غړي هېوادونه خپلې دوه اړخیزې ستونزې حل نه کړي او یو له بل سره ګټې شریکې نه کړي، د سازمان په چوکاټ کې به یې کړنې اغېزمنې ثابتې نه شي. نو وړاندیز کېږي چې د شانګهای همکارۍ سازمان غړو ترمنځ دوه اړخیز باور رامنځته او پیاوړی شي، یو د بل ظرفیتونه وپېژني، له اختلافونو تېر شي او یو د بل له ورتیاوو د سازمان په ګټه کار واخلي. دا چې چین په خپل نوښت د سیمه ییزو او نړیوالو سازمانونو د رامنځته کولو اوږده مخینه نه لري، نو د شانګهای همکارۍ سازمان او په هغې کې غړیتوب او پراختیا د چین لپاره یوه نوې تجربه ده، چې د راتلونکي لپاره به ترې نوي درسونه زده کړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## یادښتونه او سرچيني


1. Rashid Alimov. (2018). The Shanghai Cooperation Organization: Its role and place in the development of Eurasia. Journal of Eurasian Studies, vol. 9, 114-124. https://doi.org/10.1016/j.euras.2018.08.001
2. Xue, Y., and Makengo, B. M. (2021). Twenty Years of the Shanghai Cooperation Organization: Achievements, Challenges and Prospects. Open Journal of Social Sciences, 9, 184-200. https://doi.org/10.4236/jss.2021.910014
3. https://www.financialexpress.com/business/defence-explained-implications-of-irans-membership-in-the-sco-opportunities-for-indianbsp-3155330/
4. https://carnegieendowment.org/sada/88427
5. http://www.china.org.cn/english/features/meeting/171489.htm
6. http://eng.sectsco.org/docs/about/faq.html
7. https://aric.adb.org/initiative/shanghai-cooperation-organization
8. https://www.tasnimnews.com/en/news/2023/03/12/2866193/iran-sco-trade-exchange-hits-about-39-billion-in-11-months


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارگان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سايت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +93780618000 +93780618000